SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال پنځه څلویښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۵) چهارشنبه د ۱۴۲۰هـ ق کال د ربیع الاول (۹)د۱۳۷۸هـ ش کال د چنګاښ دمیاشتې(۲)د۱۹۹۹میلادي کال د جون (۲۳)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ... همدا (عـدل) ډېرنږدې دی تقوا(پرهیزګـاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

د سرپرستي شورا د محترم مرستیال لخوا :

د کابل پوهنتون په انګړ کې د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه

دغه جومات په دوو پوړونو کـــې په پاخه او اســاسي توګه جوړېږي

د سرپرستي شورا د مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر لخوا پرون له غرمي مخکې د کـابل پوهنتـــون په انګړ کې د یو لوی مراسمو په ترځ کې د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ هغه غونډې چې له حمدي آیله د لوړو زده کړو د برخو د زرګونو تنو استادانو محصلانو او منسوبینو په ګډون د کابل پوهنتون په پسرلني پارک کې جوړه شوي وه د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو د چارو رئیس محترم قاري ګل نبي الفت لخوا د الهي کلام د څو مبارکو آیتونو په لوستلو سره پیل شوه او وروسته په وار سره د کابل پوهنتون اداري مرستیال محترم قاضي فضل الرحمن د اقتصاد د پوهنځي استاد محترم پوهاند عبدالله حقایقي د ادبیاتو د پوهنځي استاد محترم پوهندوي بارمل بزال، د معالجوي طب د پوهنځي محصل محترم محمد شفیق د ادبیاتو د پوهنځي محصل محترم غلام نبي ګـسریسی، د لوړو زده کـړو وزارت علمي او تدریسي معین محترم قاري ذبیح الله د احصایي عمومي رئیس محترم مولوي محمد عمر فاروقي او د عامې روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزي، د

٤ مخ

د اردو مطبعي د برېښنا شبکه فعاله شوه

د افغانستان د اسلامي امارت د نیکو او عام المنفعه اقداماتو له مخې د اردو د خپرونو د ریاست د مطبعي د برېښنا شبکه په دې وروستیو وختو کې دیوه ټرانسفارمر په درولو سره بیا فعاله او د استفادې وړ وګرځېده. د باختر اطلاعاتي آژانس د یوه مربوط خبرګاي له خولې خبر راکړ د افغانستان د اسلامي امارت د اردو د خپرونو ریاست د مطبعي د برېښنا شبکه چې پخوا د تنظیمي جګړو له امله بېخي ویجاړه او له منځه تللې وه په دې وروستیو وختو کې د اوبو او برېښنا وزارت د انجنیرانو او کارکوونکو او د اردو د خپرونو د ریاست د منسوبینو د هلو ځلو له امله دیوه ټرانسفارمر په درولو سره بیا فعاله شوه چې ددغه ټرانسفارمر په درولو او فعالیت سره د برېښنا انرژۍ د کمښت له پلوه ددغه ریاست د طباعتي او نشراتي وسایلو ستونزه لرې شوېده.

د عالیقدر امیر المؤمنین د حکم په اساس :

هغه څوک چې د بهرنیو موسسو کارکوونکو ته تکلیف ورسوي د پنځه کاله قید سزا ورته ورکول کیږي

بهرنی موسسې هم باید د افغانستان د اسلامي امارت د نافذو قوانینو په چوکاټ کې کار وکړي

دا چې کله نا کله په ګېنو ځایونو کې د بهرنیو موسسو کارکوونکو ته تکلیف ورکول کیږي د دا ډول وضعیت څخه ملعومیږي چې دا د مخالفینو او دښمنانو لخوا یوه دسیسه ده چې د طالبانو په جامو کې غرضي کسان د موسسو کارکوونکو ته تکلیف ورکوي تر څو دنیا ته وښیي چې بهرني موسسې په امن کې نه دي او د آینده له پاره که چیرې دا ډول عمل کوونکي د طالب یا غیر طالب په جامه کې ونیول شي پنځه کاله د قید سزا ورته ورکول کیږي. د اسلامي امارت ټول مسؤولین باید د دا ډول نا مطلوبو اشخاصو د ناوړو عملونو په مخنیوي کې کوښښ وکړي.

بهرني موسسې هم باید د افغانستان د اسلامي امارت د نافذو قوانینو په چوکاټ کې کار وکړي او له قانون څخه سرغړونه ونه کړي.

والسلام

د اسلام خادم ملا محمد عمر «مجاهد»

د بامیانو ولایت په سیغان کې :

د مخالفینو شپږو تنو قوماندانانو خپلې وسلې په ګډه کېښودې

د مخالفینو شپږو تنو قوماندانانو په دې وروستیو وختو کې له اسلامي امارت سره د جګړې او مخالفت په بې مفهوم والي باندې په پوهېدلو سره خپلې وسلې په ګډه کېښودې او د بامیانو ولایت د سیغان ولسوالۍ په مربوطاتو کې له اسلامي امارت سره یو ځای شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر ورکړ قوماندان طاهر، قوماندان ناصري، قوماندان محمد حسین رضواني، حاجي محراب، حاجي ناظر حسین، قوماندان دانش او د سیغان ولسوالۍ دا بالا د سیمې یو شمیر خلکو چې پخوا د اسلامي امارت له څواکونو سره په مخالفت کې و او په غرونو کې یې ژوند کاوه په دې وروستیو وختو کې د اسلامي امارت په ضد د مخالفت په بې مفهوم والي باندې په پوهېدلو سره خپلې وسلې په ګډه کېښودې او د افغانستان اسلامي امارت ته یې خپل بشپړ بیعت څرګند کړ.

له اسلامي امارت سره یو

٤ مخ

با قرائت پیام محترم معاون شوراي سرپرست :

سیمینار علمي و آموزشي رؤساي انکشاف دهات ولایات کشور تدویر یافت

در جنګهاي دوران کمونیستها، تجـــاوز روسها و رژیم قبلي تأسیسات عام المنفعه ... ۳۵۵۰ قریه کشور از بین رفته است

اولین سیمینار وسیع علمي و آموزشي جهت ارتقـاي سویه زنده ګي دهاقین کشور و تربیه کدر هاي مرکزي و ولایتي رؤساي انکشاف دهات و ولایات دیروز از طرف ریاست عمومي انکشاف دهات در تالار هوتل انترکانتیننتال تدویر یافت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد، سیمینار مذکوره که به منظور تبادله افکار و تجارب و تربیه کادر هاي فني و مسلکي بخاطر تسریع امور بازسازي و انکشاف دهات کشور دیروز از طرف ریاست عمومي انکشاف ... همکاري مالي و تخنیکي

ص ٤

کمیسیون اقتصادي کشور تشکیل جلسه داد

جلسه کمیسیون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان قبل از ظهر دیروز در مقر وزارت پلان دایر ګردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : جلسه کمیسیون اقتصادي که تحت ریاست محترم قاري دین محمد «حنیف» سرپرست وزارت پلان به اشتراک محترم ملا عبدالرزاق آخند سرپرست وزارت تجارت، محترم ملا محمد عیسی آخند

ص ٤

په هیواد کې د برېښنا د فابریکو د فعالولو لپاره چټکې هڅې روانې دي

په هیواد کې د برېښنا د فابریکو د فعالولو لپاره چټکې هلې ځلې روانې دي او د کابل ښار کومو سیمو ته چې برېښنا نه ده رسېدلې په راتلونکي کې به ان شاء الله برېښنا ورته ورسېږي. دغه خبري د اوبو او برېښنا محترم سرپرست وزیر له امریکا غږ خبریال سره په مرکه کې څرګندي کړې او زیاته کړې یې ده :

په تیرو جګړو کې د کابل ښار د برېښنا اوبا فیصده شبکې له منځه تللې وي د اسلامي امارت په واکمنېدو سره ددغو شبکو اکثره برخي بیرته فعالي او مکروریانو ته د برېښنا د رسېدو د کار د بشپړېدو نه

٤ مخ

به سلسله عودت مهاجرین :

طي سه مـاه اخیر ۴۷۰۰ فامیل مـهاجر از پاکستان وارد شهر جلال آباد ګردیدند

طي سه ماه اخیر چهار هزار و هفتصد فامیل مهاجر از جمهوري اسلامي پاکستان از طریق تورخم وارد شهر جلال آباد ګردیدند.

محترم مولوي ګل محمد «حنفي» رئیس مهاجرین ولایت ننګرهار در زمینه به خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر در

ص ٤

به سلسله مسابقات در حربي پوهنتون :

تیم والیبال پوهنځي لوژستیک حایز مقام قهرماني ګردید

در مسابقات والیبال که بین تیم هاي والیبال پوهنځي هاي حربي پوهنتون اخیراً در قوماندانی حربي پوهنتون راه اندازي ګردیده بود تیم والیبال پوهنځي لوژستیک حایز مقام اول و قهرمان حربي پوهنتون شناخته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد، مسابقات متذکره که بمناسبت بزرګ داشت از دوازدهم ربیع الاول روز میلادالنبي «ص» از جانب آمریت ورزشي قوماندانی حربي پوهنتون اخیراً بین تیم هاي والیبال پوهنځي هاي حربي پوهنتون راه اندازي ګردیده بود در نتیجه تیم والیبال پوهنځي لوژستیک حایز مقام اول و قهرمان حربي پوهنتون تیم والیبال پوهنځي زرهدار حایز مقام دوم و تیم والیبال پوهنځي پیاده حایز مقام سوم شناخته شدند. در ختم مسابقات جوایز و تحایفي که از طرف آمریت ورزشي آن قوماندانی آماده ګردیده بود توسط محترم مولوي مطیع الله عابد قوماندان حربي پوهنتون براي برنده ګان مسابقات توزیع ګردید.

کار اعمار ګلخانه پوهنتون کابل ۸۵ فیصد به پیش رفته است

شریعت : نظر به ضـــرورت مدیریت عمومي حفظ و مراقبت ریاست پوهنتون کابل و موافقه مقام محترم وزارت تحصیلات عالي کار اعمار یك باب ګلخانه به سیستم عصري در جوار مقبره سید جمال الدین افغاني توسط شرکت ساختماني فیروز بهار در سال جاري کار آن آغاز ګردیده است که البته ۸۵٪ فیصد کار آن توسط شرکت مذکور پیش رفته، و عنقریب تکمیل میګردد. یك منبع مسؤول در این رابطه چنین علاوه نمود : ګل

ص ٤

در پوهنځي انجنیري پوهنتون کابل به تعداد ۵۴۶ تن محصل مصروف تحصیل اند

شریعت : درسال تعلیمی ۱۴۲۰هـ ق در صنوف مختلف پوهنځي انجنیري به تعداد ۵۶۴ تن محصل مصروف تحصیل میباشند. یك منبع مسؤل در رابطه به وضع تدریس و مشکلات پوهنځي مذکور چنین معلومات ارائه داشتند : الحمد لله اکنون وضع نظم و دسپلین بهتر ګردیده و دروس شکل منظم را بخود ګرفته است. استادان و محصلین با احساسات و روحیه اسلامي و علاقه فراوان به وظایف محوله تعلیمي و تعلمي خود حاضر بوده و امور اداري اکادمیکي به حسن صورت انجام مي پذیرد.

محصلین در سمستر دوم صنف چهارم دوره کار عملي خود را طبق پروګرام مجوزه نظریه رشته هاي تخصصي شان در ارګانهاي مربوط امارت

ص ٤

طبیبه الکوزي روانشناس شفاخانه صحت رواني در صحبت با خبرنګار هفته نامه شریعت :

بخش اناث شفاخانه رواني با شیوه هاي جدید درمان رواني در خدمت مریضان است

در شفاخانه صحت رواني کابل طي سال ګذشته تنها در بخش اناث مجموعاً ۶۲۸۸ مریض رواني، عقلي، عصبي و مریضان معتاد به مواد مخدر تداوي ګردیده است. همین اکنون در شفاخانه صحت رواني روزانه به تعداد ۶۰-۸۰ مریض در بخش اناث سر پا مراجعه نموده و بعد از معاینه و هدایت لازم با توزیع ادویه مرخص میشوند و مریضانیکه ایجاب بستر را مي نمایند داخل بستر شفاخانه میشوند.

مریضان در شفاخانه صحت رواني در دو بخش تحت تداوي و معالجه قرار مي ګیرند یکي بخش معتادین مواد مخدره. دوم: بخش مریضـان رواني، عـقلي، عصبي مي باشد که مریضان رواني تداوي ایشان در دو کتګوري مختلف صورت مي ګیرد یکي تداوي به شکل توزیع ادویه توسط دوکتوران موظف و نرس ها، و بخش دیګر تداوي مریضان رواني توسط روانشناس هاي مجرب شفاخانه در یك بخش کاملاً جداګانه بناً شفاخانه روز یا ګروپ تراپي صورت مي ګیرد که در یك هفته چندین بار جلسات ګروپي و انفرادي و حتی فامیلي در شفاخانه دایر مي ګردد.

صحبت هاي فوق را که مطالعه

ص ۲

سرمقاله



دلوی خدای (ج) په نامه

د پخواني باچا راوستل تحمیل که ضرورت

پدې وروستیو کې یو ځلي بیا د افغاني لانجي د هواري پغرض د پخواني باچا د جرګو، اعلامیو او همدارنګه د هغه د راوستلو خبرې ډېرې ګرمې شوي. د افغاني لانجي د سالمې شرعي هواري په هکله د هر چا هلې ځــلې چه وي د قــدر وړ دي او مــوثر بڼې هر کلي کوو. خو اصلي خبره پدې کې ده چې د باچا دغه هلې ځلې تر کومه ځایه مثمرې او منتـجې واقع کیداي شي. که خبره ربښتیا هم د افـــــغاني ستـــــونزې د حل وي نو باید د اهــلي ځلي د افغانستان د داخل نه پیل شي څکـــه په ایران، قبرس او روم کـــې خو نه افغانانان شته او نه یې ستونزې.

۲ مخ

د انتحاراتو د منسوبینو د هڅو په نتیجه کې :

یوه اندازه لوټ شوي مالونه ونیول شول

د انسحاراتو د عمومي ریاست د منسوبینو د هلو ځلو له امله یوه اندازه اماراتي مالونه او مواد چې پخوا لوټ کړاي شوي و د کابل ښار له مربوطاتو نه کشف او عاملین هم ونیول شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر

٤ مخ

ننګرهار ولایت د مدرسو د کلنیو آزموینو نتیجې اعلان شوې

د ننګرهار ولایت د بیلا بیلو مدرسو د طالب العلمانو د کلنیو آزموینو نتیجې پرون د یوې پراخې غونډې په ترځ کې اعلان شوې. د ننګرهار له ولایت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دې غونډه کې چې د خیبر زون د تنظیمه ریاست مرستیال محترم مولوي صدراعظم د پوهنې وزارت اداري معین محترم مولوي سعید احمد شهید خیل او د ننګرهار ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوي مفتي حضرت حبیب حقاني په وار

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پښت بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

او همدارنګه باید د همدي لا ینحلي معمي د رښتوني حل لپاره له داسي لارو چارو ځخه کار واخستل شي چي په واقعي توګه په تعقل، استدلال او منطق بناوي آیا د یوه سالم انساني فکر له مخي دا خبره ممکنه ښکاري چي د نږدي شلو ملیونو انسانانو دا شاني شل کلنه لانجمنه قضیه دي په بهر کي د بهرنیانو په دستور د ځو تنو بولهوسو لخوا د مجللو میزونو په سر حل شي .

دا قضیه د شل کلن ویر او ماتم قضیه ده په دي قضیي کي د سلها و زره معصومو انسانانو پاکي وینې د یوه سوچه اسلامي نظام د حاکمیت په منظور توي شوي، په سلها و زره مسلمان افغانان د خپل خوازه وطن پریښودلو ته مجبور شوي، ډیري میندي بوري شوي او ډیر نازك ماشومان د یتیمیت په اور کي سوځیدلي ددغو ټولو ویرونو، ماتمونو او دردونو قضیه ممکنه نده چي د ځو نازولیو لخوا په نازدانه اقتراحاتو کي حل او پاي ته ورسیږي . بیا هم کاشکي د هغوي ددي نیمه خوا هلو ځلو ابتدا په ساکن نواي راغلي.

د معلوماتو له مخي همدا اوس اوس خپله د همدغو اقایانو تر منځ د قضیي د حل او د خیالي قدرت د تصاحب په غرض ژور اختلافات را منځ ته شوي دا به د کوم تعقل له مخي ممکن وي چي مختلفین دي د نورو مختلفینو اختلاف ور حل کړي.

تر دي به هم تیر شو او پدي تېکي به وغږیږو چي دغه آقایان د کوم صلاحیت له مخي ددي خبري ځان جوګه بولي چي دومره لوي اقدام ته لاس واچوي. آیا هغوي هغه وخت ولي پداسي هلو ځلو لاس نه پوري کاو چي زمونږ د مسلمان هیواد په مقدس حریم ملحدو روسانو یرغل کړي و او د هغه ځمکني تمامیت بي په خطر کي اچولي و که رښتیا هم خبره له خپل ځوریدلي ملت سره د خواخوږي او همدردي وي نو ولي ددي په ځاي چي نوري طرحي ایجاد شي د هغه اسلامي امارت تائید نه کیږي چي د مسلمانو افغانانو په قاطع اکثریت را منځ ته شوي او په فعلي حالت کي د هیواد په زیاتري برخي حاکمیت لري.

د دا شاني نویو طرحو وړاندي کول به د افغاني ستونزي د حل په معناوي که د لا اوږدوالي. په تیرو شلو کلوکي خو تجربو دا راته ښه واضحه کړي چي هره بهرني طرحه د نوي ستونزي د ایجاد باعث ګرځیدلي نه د هغي د حل. په افغانستان کي فعلي اسلامي امارت چي زمونږ د مسلمان ملت د صالحو ، مؤمنو مجاهدو نماینده ګانو، (علماء کرامو) ، لخوا یي اساسګذاري شوي په شرعي او قانوني لحاظ زمونږ د مجاهد ملت د شرعي مقدسو ارمانونو یواځیني ممثل دي. خو نړیوال جابر استکباري ځواکونه هیڅ کله هم د خپل استکباري قوت په مقابل کي د یوه ازاد خپلواك اسلامي ځواك حاکمیت نشي زغملاي. هغوي په خپل ټول توان سره ددي کوښښ کوي چي د همدي اسلامي امارت د پرمختګ په لاره کي خنډونه ایجاد کړي خو زمونږ مسلمان ملت د لوي ځښتن پدي، باړکه وعده پوره مطمئن دي چي فرمایي «و کان حقاً علینا ... »

او د خپل اسلامي امارت په شرعي قیادت کي د ټولو استعماري او شیطاني توطیو شندولو توان په ځان کي ویني هیڅا ته به ددي اجازه ورنکړي چي د هغوي د برحقي ارادي په خلاف پر دوي خپل نظر تحمیل کړي .

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

د کبر کاسه نسکوره ده

ځو ورځي مخکي د بدي ورځي یاراتو د بني ورځي په اسره د هیواد داسي سیمي ته ورسره مل کړي وم چي کتاب، مجله او اخبار لکه د مرغه بي‌داسي وي، پدغه سیمه کي د تمدن ډیري کوډي او جادوګري سړي لیدلاي شواي خو کتاب او اخبار یوه داسي ورکه وه چي شایي زما په څیر له یو ځو لیونو پرته بي له نورو سره د لټون تلوسه نه وي پیدا شوي.

ځکه خو زه خپل عادت مجبور کړي وم چي سوداګرو او دکاندارانو ته خوله جینګه کړم او د کریټونو او پیټیو نه د زړو اخبارونو په راټولولو د خپلي مجبوري ځواب وویلي شم. ما به د اخبارونو دغه پاڼي او ټوټي سر تر پایه او ټکي په ټکي لوستي تر دي چي ډیري مي بیابیا هم لوستي، ماته ددغو ټوټو په لوستو د خداي بښلي پلار دا خبره سترګو ته دریده چي که مو د دیوال په چاود کي هم د کاغذ کومه ټوټه موندله را اخلي بي ، لولي بي ستاسي له پاره به ضرور د زدکړي او ګټي ځو ټکي ولري-په غالب ګمان چي د جنوبي پښتونخوا د جنګ ورځپاڼي کومه پاڼه وه چي د جاوید چودري کالم « زیرو پوائنت ، بي په خپله لمن کي نغښتي و

په کالم کي کښل شوي : څه موده وړاندي په یوه میلمستیا کي ښاغلي جاوید هاشمي تر لاس ونیولم، لږ وړاندي په یوه ګوښه کي دواړه کیناستو، خبري له روسیي نه دده د وروستي سفر په اړه پیل شوي ده پخپلو خبرو کي د یوي حیرانوونکي خاطري یادونه وکړه : یو مازیګر چي د پترزبرګ واټونو ته په چکر وتلي وم که ګورم د واټ له یوي غاړي تر بلي په سلګونو روسي پوځیان له یونیفورم او پوځي اعزازي مډالونو سره ولاړ او د سوال لاسونه بي اوږده کړي دي ددوي پر اوږو او ټټرونو ګڼ مډالونه او نښانونه ځړیدلي پدوي کي یو شمیر جنرالان او ډګروالان هم وو خو د افرادو شمیر بي دومره وو چي سړي نشواي پسي رسیدلاي. ددغو پوځیانو یو شمیر بي لاسو بي پښو وو له پوښتني سره

راته ځرګنده شوه چي دا هغه پوځیان دي چي په افغانستان د یرغل او جګړي په اوږدو کي ټپیان او معیوب شوي دي.

دوي هره ورځ پداسي حال کي چي پوځي دریشي بي اغوستي او پر اوږو او ټټر بي د اتلوالي مډالونه ټومبلي وي په ډله ایزه توګه د سوال لاسونه اوږده کړي وي چي که وتوانیږي د خیټي دوزخ ډك کړي شي، دا په حقیقت کي ددغو مډالونو او رتبو شرمول دي، هغه څه چي په ظلم او تیري ګټل شوي دي باید له همداسي شرموونکي انجام سره مخامخ شي شوروي اتحاد د نړي زبر ځواك ؤ خروسچف د ملګرو ملتو په یوه غونډه کي له خپلي پښتي بوټ راوایست او د اعتراض په توګه بي پر میز ځو سخت ګوزارونه وکړل، هغه شوروي اتحاد چي استازي بي په ملګرو ملتونو کي د پاکستان سفیر تر ګریوان ونیو چي ځرنګه بنګله دیش په رسمیت نه پیژني، هغه شوروي اتحاد چي افغانستان بي خپل شپاړسم جمهوریت باله ، هغه شوروي اتحاد چي امریکه بي د ویتنام په جګړو له ماتي او رسوایي سره مخامخ کړي وه او ... ځوه ادیاوس،

د سوسیالیزم جنت ځپلي د خپلو خیټو دوزخ ته حیراندي، خواجه عبدالله انصاري «رح» ځومره ښه ویلي لکه د همدي ورځني له پاره بي چي ویلي وي : خدایا! هر

آنکه خواهي بر اندازي با درویشان در اندازي.

خدایه! هغه ځوك چي غواړي پریباسي له درویشانو سره بي کیباسي.

د کابل په لارو او واټونو هم هغه مډالونه دوسپني په بیه پلورل کیږي چي په اصطلاح د ثور د پرتمین!!! انقلاب د دفاع په لار کي په بیلابیلو نومونو به سینو ځړول کیدل، دغو مډالونو ځومره ککري وخوړي؟ چیري دي هغه اتلان چي د قهرماني دغه مډالونه بي په اوږو ځړیدل، څه شو د ثور په شانه تلونکي انقلاب؟ د وسپنو دغو زیړو او سپینو مډالونو ځومره ځواني وخوړي، ځومره کورونه بي وران کړل، د بهادري په دغو ځو ټکو کي د ځومره ستري او خونړي فاجعي تصویر پټ دي. اوس به دمغغه اتل د کورني څه حال وي چي د وسپني ددغي دړي ټوټي په شوق کي بي خپله ځواني ابري او خپل بچیان خوار او زار کړل.

روسي پوځیانو خو د خپل ماضي وباړ دومره مسخره کړ چي په واټونو کي بي د ټولو ننداري ته ایښي اوس دي دغه مډالونه هغو وریو او معیوبو روسانو ته یوه ګوله ډوډي ورکړي ...

ډاکتر نجیب په ۱۳٦۹ کال کي پنځلسو تنو ته له مرګ وروسته جنرالي ورکړه ، له مرګ وروسته بي د قهرماني لقبونه ور پوري کړل.

فیض محمد چي په ځدراڼوکي د یوي قومي پریکړي له مخي مړ او راوړي پیسي بي وسوځول شوي له مرګ وروسته د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت قهرمان شو د وسپني پریوه وړوکي ټوټه ځو کرښي دده د ژوند بیه شوه .

دغو مډالونو روسي جنرالانو ته څه ورکړل، لوږه ، بدمرغي ، د سوال شل شوي لاسونه، دغو مډالونو شوروي اتحاد، کمونیزم او سوسیالستي نړي ډیره او روسیه بي د سوال دیوه اوږده کچکول سمبول وګرځوله .

د افغانانو آزار او د توري ګوزار دومره سخت دي چي هیڅا هم تري ښه او روغه ورځ نه ده لیدلي، رښتیا ده هغه ځوك چي اللهٔ«ج» غواړي پریباسي له افغانانو سره بي کیباسي.

پخې او تېرې

زنګیدلي

لالې دې په دې نه دې چې غرمه ده

د روسانو یو پخواني مشر چي له کال ۱٦۸۳ ځخه تر ۱۷۲۵ پوري دوي ویده خمار ساتلي وو پترو چي روسانو به له ډاره پتر کبیر بوله. وایي دده به هم لکه د پلتسن بلاو هلي کړي ورځ سترګي په ځټ کي وي ده د روسانو په آدرس د وصیت په یوه بریږه کي بلابولالي ګز کړي. تم شي لاندي غورو ته یي :

« د هندوستان په لور پر مختګ ته دوام ورکړي چي د ټولي نړي د زیرمه تون« ګودام» حیثیت لري. که مو دي ځاي ته په وررسیدو کي بریالي شو نو بیا به د انګلستان ځخه د سرو زرو اړتیا پاي ته ورسیږي » « روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان»

ده خو دا نا پرېښه کړي وه خو که په زور کلي جوړیدلاي نو ده به ټول ملکونه جارو کړي وو او ګردو به د دوي نه منته کوله او د دوي په اصطلاح «سپیبه» به بي ورته ویلي.

په کال ۱۹۷۹ م د دسمبر په ۲۷ کله چي مسکو رادیو زمونږ په هیواد د تیري خبر تیر کړ نو دوي داسي انګیرله چي په میاشت کي به سور پوځ کریملین ته د بري زیري ورکړي، او وار به ودریږي پاکستان ته، هغه خو دوي پخپل ګومان لکه ښامار په اسویلي کي را اخلي، پاتي کیږي په تودو اوبوکي د لامبلو خبره، هندوستانیان خو به هسي هم بریژنیف ته ښه راغلاست وایي او ولي به بي نه وایي، نور به کیسه ختمه شي دوي به بي او مستي چړچي.

خو دریغه چي « د ګور سودا په بازار نه جوړیږي» د روسانو چي پام کیدو بیابي خورجین بایللي و میاشتي په کلونو واوښتي او کلونو مرګونه ورواړول او خولي بي پري ځیري کړه بریژنف، اندرپوف او چرنینکو پکي سرونه وخوړل او د ګرباچوف لینګي چا نشواي را ټینګولاي.

د « روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان» نوي کتاب کي راغلي :

« سلیمان لایق د کمونست رژیم د اقوامو او قبایلو وزیر: د ۱۹۸۵ کال د نوامبر په میاشت کي ګرباچوف کارمل ته داسي وویل: نو دا ددي مانا لري چي دا د ثور انقلاب چي تاسو عنوان کړي خلك بي نه مني او تاسي بي زمونږ د لښکرو په زور په خلکو مني، آیا د غسي نه ده ؟ شپږ کاله کیږي چي مونږ په افغانستان کي جنګیږو او که نوي لاري چاري ونه سنجول شي نو شل دیرش کاله نور هم په افغانستان کي په جنګ اخته یو او مونږ ددي لانجي د هوارولو له پاره سمه لاره نه ده غوره کړي، آیا مونږ دي ته اړ یو چي د یوي ناپایه مودي له پاره وجنګیږو او په دي نړیوالو ته ثابته کړو چي د حالاتو د رغولو وس نلرو ؟ »

ګرباچوف ناځوانه خو به ددي خبري په اورولو په خپلو لاس پوځو مرګ تیر کړي وي. د روسانو خو میراث عادت دي « خولي بي د سوبانو دي او شخوند د اوښانو ووهي» خو کله بي چي ځو ځپلي ککریو ته سیخي شوي نو په سد شول. او کله چي د پتر د وصیت په پلي کولو کي پاتي راغلل نو د کارمل، بي وحطنه. دداسي لویي ماتي ازانګي چي خوري شوي نو یو وار د ګرباچوف مرستیال ګینادي ګیانوف له سده ووت او د اګست په ۱۹ نیټه بي په ګرباچوف پسي پایڅي رابډوهلي خو هغه وار بیا یلتسن چي ړنګ بنګ له کومي میکدي راوتلي و ګیانوف بي وځغلاوه، منډي بي پري وکړي او ګرباچف بچ شو.

ګیانوف چي د ګرباچوف نیکتایي بي تر ناسه پوري پري ځړولي وه ونیول شو. خودده تر ځنګ د کي.جي.بي پخواني مشر ګرچکوف هم په دي کودتا کي ونیول شو چي محکمي ته بي د خپلي دفاعیي په یوه برخه کي داسي د زړه براس وویست« د ګرباچوف حکومت د ړنګولو موخه د شوروي اتحاد د مسکین کولو... د غربي هیوادونو د دسیسو مخنیوي و خو زه په دي خپه یم چي په دي هڅو کي بریالي نشوم»

کمونستانو که په ګرباچوف نکتایي وځړوله نو غربیانو بیا دي د کال سري ونوماوه او همداسي بي ۱۹۹۱ کال کي د سولي د نوبل جایزه ورمبارکه کړه .

ګرانه لوستونکیه!

خبري ډیري او سر بي یو کله چي ګرباچوف له دي ماتي وروسته له دندي وځغلول شو نو روسانو ښه ډیر د هندوانو او ختیکیو پوټکي ورخیر کړل او دا پور بي ووروساوه .خو یلتسن لالي نو په دي نه دي چي غرمه ده تل د اوښ په شان سر سیوري خوري. دي په دي نه پوهیږي او که ځان نه خبروي چي که ځوك اوس روسان او روسیه په نقشه کي لټوي نو ذره بین به وریسي ګرځوي. دا دي هم د لوربیني واوري چي کومه لومه چي ده ایښي په هغه مي ګومان نشي چي تر تورو اوبو دي ځان وباسي. له آمر صیب مسعود نه چي مطلب دي چي لاس دي ورځخه واخلي ځکه چي « خانه به خوست کشت به لوګر نمیشه.» که نه روسان به دي هم چي هسي هم ټول ویرنګکاري شوي لکه ګرباچوف د ختیکیو په پوټکو ولمانځي او که بي کوم پوټکي په زړه ولګیده نو به روسي متخصصین چي په وقایه کي تکړه خو په مسجادله کي بیا امریکایي متخصصینو ته لاس تر زني ناست دي د منفي او مثبت ویرونو په ویلډنګولو کي غلط نشي او دي شاړتي ونکړي.

اي مسلمانه ليكوونكيه!

نعمان دوست

ته چي هر څوك يې د هر ځاي ، رنگ، ژبې، ټبر او ... چي يې خو لكيوال يې .

تا چي كومه سپېڅلي دنده په غاړه اخيستي او تا چي كوم سپېڅلي څيز په گوتو كي نيولي. څنگه خپل مسؤوليت دي درك كړي ؟ او هغه څه چي دي په گوتو كي نيولي په ارزښت يې بوه يې؟؟

هوا دا هغه قيمتي جنس دي چي ستا پيدا كوونكي او پالونكي او هغه ذات چي تاته يې د بيان قوه دركړي او هغه ذات چي ټول موجودات يې په بوه (كن) (فيكون) كړي له دومره لويې، سره ، سره يې پري سوگند ياد كړي .

دا هغه قيمتي جنس دي د كوم په واسطه چي ټول سپېڅلي اسماني كتابونه، د بشر د نيكمرغي د لارښونكوه پيغمبرانو، مقدس ارشادات، ديني او مذهبي احكام پري ليكل شوي.

دا هغه قيمتي جنس دي د كوم په هلو ځلو چي تاته د كامل انسان وياړ در په برخه شوي او ته يې د بدبختيو له تيارو څخه د نيكمرغيو روښنايي ته را بللي يې.

اي زما د هيواد ليكواله!

ستا په گوتو كي چي كوم جنس دي دا له پورته مقدساتو سربيره نوره سپېڅلتيا هم لري.

هو، دده په زړه كي چي څه راغونډ شوي او څه يې چي له خولي توييږي په عادي سترگه مه ور ته گوره دا د ميلونهاوو بشيمانو د پلرونو، د بورو ميندو د ژامنو، لورگانو د بسيرو د ميندو دوراړو دورونو او ... سري ويني او نيمگړي ارمانونه دي. ځكه كه دوي د خپلو پاكو وينو په مستو سيلابونو د سره پوځ او د هغوي د گوډاگيانو او نورو ظالمانو مانې نه وي نړولي نن به ستا په لاس كي ددغه وياړلي جنس په ځاي ويره سپكه او د شرم نه ډكه د غلامي هتكړي پرته وه .

نو اوس رښتيا ووايه !

كه ته خداي مه كړه ددغه پاك څيز په پاكه خوله ناوړه شيان او هغه څه چي دده دومره لوي مقام ته سپكاوي وي راوړي نو څنگه په دغه صورت كي به تانه بواځي له دغه مظلوم سره بلكي د خپل پيدا كوونكي رب د هغه له مقدسو كتابونو او ... سره ستر خيانت نه وي كړي ؟ نو ته ووايه!

په دغه حالت كي به ته د خپلو ارمانجنو ورونو قبرونو، بي لاسو بي پښو هيوادوالو ، نږدلي هيواد او هم د ابدي عمر په سراي كي خپل رب او ... ته په كومو سترگو گوري ؟ او كه چيري د همدغه عادل ذات«ج» په وړاندي د اتلس زره قوم په مخ كي څنگه پوه شوي ؟ هو خامخا. نو اوس هم اوبه له ورخه تيري نه دي. راشه د همدغه سپېڅلي څيز له پاكي خولي څخه داسي لر زونكي ناري او چيغي وباسه چي ټول ويده مسلمه امت د غفلت له درانه خوبه راپورته كړي په فكري او عملي لحاظ بو موټي شي د خپل فلاح بښونكي دين د لاغښتلتيا لپاره متي بډ وهي د خپلو دښمنانو له شومو پلانونو نه ځان خبر كړي او د استعمار خوري لومي وشلوي. هو دغه مبارزه تاته په دواړو جهانونو كي وياړلي ژوند دربښلي شي ځكه دا ستا د رب غوښتنه د ولس ارمان او ستا د پاك قلم بواځيني هيله ده .

ټوټه

شادمن

څه مسته حوصــــله ده او څـــه لوړ شانته غوښتنه
دا وېــــښـــې قافلي چي بي بوله په بـــله سر كړي
څه سري غوښي په دار شوي او څه سري غوښي ي واكړي
مالي دي چي بي ربېي او مـــالي دي چي بي كـــر كړي

د شعر او ادب پاڼه

سخناني چند از علامه سيد جمال الدين افغان در قبح ناداني و جهالت

* جاهل بجلفي افتخار ميكند و به خشونت و درشتي مي نازد و بوقاحت مباهات ميكند.

* جاهل دشمن خود و دشمن عالم است، خير خود را در گزند ها مي جويد و زهر را ترياق گمان ميكند.و راههاي نا هموار را سهل و آسان مي انگارد و خار ها را در راه خود پرنيان گمان ميكند و در يك مكان حركات رهويه بجا آورده چون گاو عصاري گمان ميكند كه قطع مسافت مينمايد.و در جاي اقدام پس، پس ميرود و چون قصد احجام كند در پيش روي خود هجوم مي آورد.و از مذاق دوستي بي خبر است و با دوست آن معامله كند كه با دشمن خود معامله مينمايد.

و با اقارب آن كند كه با بيگانگان بجا آورده، حقوق طبيعي را درك نميكند و به حقوق شرعيه اقرار ندارد و آداب رسوم متداوله را پوچ و لغو ميشمارد. بلا سبب در غضب ميشود و چون در خشم شود درندگي او از حيوانات درنده بيش ميگردد. چونكه درندگان حيواني را نمي درند مگر از براي خوراك، اما جاهل ميدرد و ميبرد و ميشكند و ميسوزاند بدون اينكه بداند از براي چيست؟

و بچه شير خواره را چنان ظالمانه و بيرحمانه سر ميبرد كه گويا عاقلي عدو خود را ميخواهد بكشدو با زنان آن خشونت و درشتي را بكار برد كه با مردان شمشير زن دانايان بجا آورند.

آرزو

زرغونه «رحمتي»

كاش يكشب به سحر رسيده، خوابم ببرد
كاش از موجه، طوفان گناه بي پروبال
تا كه خورشيد صبا سر زند از قله، نور
تا كه در حلقه، حوران غزلي سر بكنم
درسي از زمزمه، ذكر خدايم بدهند

شاعر عرش شوم حوري كتابم ببرد
از دل جوش غضب همچو حبابم ببرد
خسته از گوشه، اين دور خرابم ببرد
ذكر روي تو ز دل رنج و عزابم ببرد
بيرون از شهر گناه سوي ثوابم ببرد

تا به بوستان وفا گام محبت بزنم
نور عشق توبه دنياي شبابم ببرد

د لستوڼي مار

ملا درمحمد «گوهري»

نور به په هيڅ پاندي ونه كړم باور ملگرو
گر چي مي وي د سترگو تور د زړگي سر ملگرو
ويري د زړه غوښي مي وركړي ولي بار مي نه كه
كه هر څو ورمي كړلي ويني د ځيگر ملگرو
كه هر څو لاره مي ټپوس ته د گلزار نيودله
مدام بي وو د گندگي خواته نظر ملگرو
ما صداقت كه ورسره خودي ټگمار وختو
سپين مي باله وختو تور لكه مجمر ملگرو
ما صميمي آشنا باله زړه كي مي ځاي وركاوه
مار د لستوڼي و چي ورورسته شوم خبر ملگرو
ما سادگي تي د شربت په جام كي زهر راكړه
په سادگي كي بي په ما وكړو منتشر ملگرو
ما «گوهري» وه ورته غيږ د محبت پرانستي
ده په سينه پاندي سوري كړم په خنجر ملگرو

كابل - ۲۷/رمضان ۱۴۱۹

د افغانستان د اقتصادي بيا رغاوني لاري چاري

يار محمد همتوال

افغانستان څه د پاسه له دوه لسيزو را په دېخوا د استعماري سياستونو او د ساړه جنگ په نتيجه كي د زور ازموېلو او جنگ په ميدان بدل شوي دي، خپل هغه نيم ځانه اقتصادي حالت چي پخوا د كمونستانو تر واكمني بي درلود هم د لاسه وركړي او اوس د پوره اقتصادي ويجاړتيا په طوفان كي سرگردانه دي له دي حالت څخه د راوتلو په هيله ځني لاري چاري په لاندي توگه په گوته كوم.

د افغانستان اقتصادي حالت ته اجمالي نظر:

د شلمي پيړي په درهمه نيمايي كي يعني له دوهمي جهاني جگړي څخه وروسته د افغانستان دروازي د عصري تكنالوژي او تمدن په مخ څه تيمكښه غوندي خلاصي شوي او افغانستان د نړيوال اقتصاد بازار ته ور گډ او په دي لاره كي يي ځيني كوچني گامونه واخستل.

تر دويمي نړيوالي جگړي وروسته ددي ضرورت احساس شو چي بايد په هيواد كي د صنعت برخي ته هم توجه وشي تر څو زموږ ملي اقتصاد په پښو ودريږي .

د همدي ضرورت په اساس ځيني د ټوكرانو او بدلو فابريكي او نوري كوچني كارخاني را منځته شوي چي ځيني يي د خارجي رقابت په نتيجه كي بيرته له منځه ولاړي او نورو يي د ملي اقتصاد په پياوړتيا كي رول درلود .

د ثور تر كرغيړني كودتاه د مخه د افغانستان د اقتصادي عمده برخه په زراعت او مالداري ولاړه وه او بل بخش يي خفيفه صنايع لكه د ټوكرانو او بدلو فابريكي، پلاستيك جوړولو، د كيمياوي سري ، سمنتو، غوري، او داسي نوري كارخاني وي چي د ملي اقتصاد بوه كمه برخه يي تكميلوله.

ددي تر څنگ داخلي او خارجي تجارت هم په محلي اقتصاد كي خپل رول لوباوه خو د كمونستانو له كودتاه وروسته سياسي بحران په هيواد كي رامنځ ته او د هغه په نتيجه كي زراعتي ځمكي په ماينونو وكرلي شوي، مواصلاتي لاري له منځه ولاړي د فابريكو لپاره خام مواد موجود بدل له مشكلاتو سره مخامخ شول د كليو او ښارونو تر منځ ارتباطات حد اقل ته ورسيدل دي ټولو عواملو، د ملي اقتصاد د ويجاړتيا په لاره كي خپل تاثيرات وښندل كوم لوي عامل چي زموږ اقتصاد يي له پښو وغورځاوه هغه د كمونستانو له خوا د بي پشتوانې بانك نوټونو چاپ وو چي په هيواد كي يي پولي تورم رامنځته كړ او د افغاني قيمت ته يكي پوره زيان ورسيد او د خلكو په اقتصادي ژوند كي يي ناوړه تاثيرات پريښودل. كمونستانو د خپلو عسكرو او جنگي مصارفو د پوره كولو له پاره په دي تباه كوونكي عمل لاس پوري كړ چي زيانونه يي تر اوسه هم دوام لري.

د كمونستانو د رژيم تر سقوط وروسته د رباني په دوره كي د اقتصادي ويجاړتيا په لاره كي نور گامونه هم واخستل شول چي البته زما په نظر هغه د روسانو د هغه پروگرام بوه برخه وه چي په افغانستان كي بايد سياسي ثبات را منځته نشي او نه يي اقتصاد پر پښو ودريږي د همدي پروگرام له مخي روسانو د بي پشتوانې بانكنوټ د چاپ پروسي ته لا زياتوالي وركړ او د لس زرگون او پنځه زرگون بانك نوټ چاپيدلو بر علاوه يي د كمونستانو د وخت زرگون بانكنوټ په عين سريال نمبر اته ځلي چاپ كړ له دي څخه ښكاري چي دا بحران نور څومره ژور شوي دي او اقتصادي ويجاړتيايي كوم سرحد ته رسولي ده بواځي په ۱۴۱۹ هـ ق كال كي د خارجي منابعو په حواله ويل شوي دي چي روسانو د مسعود لپاره شپږ تريلونه افغاني لس زرگون بانك نوټونه په چاپ رسولي دي چي كه د هغو مخنيوي ونشي د افغانستان د اقتصادي ويجاړتيا په لاره كي به نور هم سخت مشكلات را منځته نه شي او د افغاني قيمت به نور هم ورځ په ورځ كم شي. له بلي خوا روسان هم د افغانستان د پيسو په خرڅولو د ځان له پاره خا ... مي اسعار (دالر) راليسي چي دا يو بل تباه كوونكي عامل دي چي بايد په هره ممكنه وسيله چي يي مخه نيول كيدا شي، بايد ونيوله شي چي البته د هغه په باب به په يو جلا بحث كي څه ووايو.

څنگه چي مونږ مخكي هم دي خبري ته اشاره وكړه چي زراعتي ځمكي په ماينونو ډكي شوي نو د زراعت په برخه كي هم د كښتي ور كموالي رامنځ ته شو پخوا چي هيواد د غلو دانو له پلوه په ځان متكي شوي وو اوس بيرته بو ځل بيا دي ته اړ شو ... بهر څخه اوړه او غنم واخلي.

د فابريكو او صناعتي تاسيساتو سرنوشت خو هغه شو چي ماشين الات او پرزي يي په بهرنيو ملكونو وپلورل شوي او د كارخانو وداني د خپل منځي جگړو په اور كي لولپه شوي او په كنډوالو بدلي شوي.

كومو سرمايه دارانو چي سرمايي يي درلودلي هغه يي بهر ملكونو ته انتقال كړي او صرف د تجارت په برخه كي څه سرمايي پاته شوي چي د هغه مقدار هم بوازي او بوازي د تاجر جيب ته لويږي او د هيواد په ملي اقتصاد باندي څه مثبت تاثير نه اچوي .

په دي توگه د ملي اقتصاد ټولي برخي اوس ويجاړي او د بيا رغاوني جدي كار ته اړتيا لري چي ان شاء الله د اسلامي امارت مسؤولين به د ملي اقتصاد د بيا جوړوني په لاره كي د كار پوهانو نظرياتو ته پوره پاملرنه وكړي او په دي لاره كي به عملي او گټور گامونه پورته كړي .

بخش اناث شفاخانه رواني با شيوه هاي ...

نمودند از محترمه طيبه الكوزي روان شناس ورزيده شفاخانه صحت رواني بود كه طي مصاحبه يي با خبرنگار هفته نامه شريعت بيان داشتند ايشان در مورد هدف از داير نمودن جلسات شفاخانه روز با مريضان رواني و نحوه بر خورد با مريضان را اينگونه بيان داشتند :

هدف از داير نمودن جلسات و گفتگو ها با مريضان رواني در شفاخانه روز بهبودي بيمار از طريق تفهيم و صحبت كردن مي باشد. مريض در شفاخانه روز آموزش ميگردد تا عواطف، احساسات و افكار خود را يشد ... د . و به علت يادگيري و حمايت ق د. ميشود افكار، احساسات و عواطف خود را كنترول نمايد و در صورت مواجه شدن مجرد با هر نوع مشكلات و مسايل زندگي به علت داشتن تجارب گذشته به آساني ميتوان با مشكلات برخورد نموده و مبارزه كند.

در شفاخانه صحت رواني در بخش شفاخانه روز مريضان رواني هفته دو تا سه مرتبه براي روان درماني خواسته ميشوند البته يك تعداد مريضان كه مشكلات شبيه هم دارند ايجاب روان درماني بصورت گروپي را ميسنمايند. در يك گروپ تنظيم ميشوند. و هم هستند يك تعداد مريضان كه نمي خواهند مشكلات و راز شان در جمع گروپ ساير مريضان اظهار نمايند براي آنها صحبت و جلسات جداگانه انفرادي در نظر گرفته ميشود و هم هستند يك تعداد مريضان كه مشكلات فاميلي دارند كه نه تنها با خود ايشان نه بلكه با فاميل هاي شان نيز تماس گرفته شده و نشست هايي صورت مي گيرد. يك تعداد ديگر مريضان ما را مريضان نارسايان هوش و يا عقب مانده هاي ذهني تشكيل ميدهد كه اين گونه مريضان هم در اثر سعي و تلاش روانشناسان تحت تداوي و تربيه قرار مي گيرند و همچنان يك تعداد **بيماران ديگر شفاخانه را افراديكه به مواد مخدره عادت دارند تشكيل ميدهد همه ميدانيم كه اشخاص معتاد در جامعه ما اشخاص طرد شده از اجتماع بوده و هنگاميكه فرد به مواد مخدر رو مي آورد دچار اختلال در شخصيت شده و استفاده از مواد مخدر بالاي روان انسان تاثير منفي داشته و شخص دچار امراض رواني گرديده كه اينگونه** مريضان هم در شفاخانه ما تحت روان درماني توسط روانشناسان و داكتران و نرس هاي مؤظف قرار مي گيرند.

یوه اندازه لوټ ...

راکړ په دغو موادو کې لس کارتنه حیواني درمل، د یوې فلزي برمې په ګډون د خرادي یوه دستګاه یو غیر فعال موټر او ټولس بیرله قیر شته چې په غیر قانوني ډول د کابل ښار په مربوطاتو کې ځای په ځای شوي و او د استخباراتو د عمومي ریاست د منسوبینو لخوا کشف او عاملین یې هم ونیول شول.

تر لاسه شوي مالونه او مواد اړوندو مراجعو ته وسپارل شول او مجرمین تر قانوني پوښتنې لاندې دي.

د ننګرهار ولایت ...

سره د اسلام د مبین دین له پلوه د ښوونې او روزنې د ارزښت په باره کې خبرې وکړې او په هغو طالب العلمانو باندې یې مهرباني وکړه چې ازموینې یې په بریالیتوب سره ورکړېدې.

د غونډې په پای کې محترم سید نصر الله ته چې د ننګرهار ولایت د اولسو مدرسو د طالب العلمانو تر منځ عمومي اول نمره تثبیت شوي و د خبیځ زون د تنظیمه ریاست د محترم مرستیال لخوا د مکافاتو په ډول پنځلس لکه افغاني نغدې پیسې، دویم لمبر ته لس لکه افغاني او دریم لمبر ته پنځه لکه افغاني ورکړل شوي.

پېښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

امریکا دستور بازگشت سه صد فروند طیاره جنگي خود را از منطقه بالکان صادر نموده

پس از پایان یافتن رسمي حملات پیمان ناتو به یوگوسلاویا، امریکا دستور باز گشت سه صد فروند طیاره جنگي خود را از منطقه بالکان صادر کرد.

طبق گفته ویلیم کوهن وزیر دفاع ایالات متحده امریکا حمل و نقل طیارات جنگي و سر بازان میتواند به پایگاه هاي امریکا و اروپا آغاز شود.

ولي نامبرده گفت که ترتیب دقیق عملیات را جنرال ویسلي کلاک قوماندان عمومي نیرو هاي پیمان ناتو تعیین خواهد کرد.

امریکا براي حملات هوایي پیمان ناتو به یوگوسلاویا که یازده هفته طول کشید هشتصد فروند طیاره جنگي را در اختیار ناتو قرار داده بود.

اولین دور مذاکرات کوریاي شمالي و جنوبي در پیکنګ پایان یافت

نماینده گان کوریاي شمالي و کوریاي جنوبي به اولین دور مذاکرات مستقیم خود که در پیکنګ پایتخت چین صورت گرفت پایان دادند.

در این مذاکرات که با شرکت معاون وزیر وحدت کوریاي جنوبي و یك مقام ارشد کمیته وحدت کوریاي شمالي به مدت یکساعت طول کشید مقامات دو کشور در باره موضوعات مختلف از جمله نبرد دریایي اخیر و همچنان دیدار خانواده هاي جدا شده مقیم این دو کشور بحث و گفتگو نمودند. تا هنوز زمان دور دوم مذاکرات میان نماینده گان این دو کشور مشخص و تعیین نشده است.

اندونیزیا از شرکت ارتش خود در تیمور شرقي تردید کرد

حکومت اندونیزیا دیروز این اتهامات را رد نمود که قواي مسلح آنکشور در فعالیتهاي تهدید آمیز بر علیه طرفداران استقلال تیمور شرقي شرکت نموده باشند.

یك نطاق حکومت اندونیزیا اتهامات مذکور را که از سوي سازمان عفو بین المللي بر آنکشور وارد گردیده بود رد نموده و آنرا بي اساس خواند. نامبرده گفت که در حدود بیش از پنج هزار پولیس به تیمور شرقي فرستاده شده است تا نظم و قانون را در ایالت مذکور حفاظت نمایند از جانب دیگر نماینده خاص سازمان ملل متحد براي تیمور شرقي دیروز گفت که مذاکرات در باره تأخیر احتمالي در رأي گیري عمومي در مورد آینده تیمور شرقي آغاز گردیده که علت آن ادامه تشدد و نا امني در ایالت مذکور میباشد.

معالجه مرض نفس تنگي با ادویه جدید

محققان طبي دواي جدیدي را به نام مونتلیکا براي علاج مریضي نفس تنگي در استرالیا در معرض استفاده مریضان نیازمند این دوا قرار دادند.

روزنامه سترالن چاپ سدني نوشت: این دوا نتیجه کشفي است که جایزه نوبل را نیز کمایي کرده و در معالجه بزرگ سالانیکه به مرض نفس تنگي مصاب اند و همچنان اطفال بیشتر از شش سال مبتلا به این مریضي از آن استفاده به عمل مي آید. داکتران متخصص مریضي هاي تنفسي در استرالیا گفته اند این دوا در علاج نفس تنگي بسیار سودمند میباشد.

امکانات واکسین جدید براي امحاي مرض توبرکلوز

در مورد تداوي توبرکلوز یك گزارش جدید تحقیقات به نشر رسیده است.

درین گزارش تصریح گردیده که در بعضي از حصص جهان واکسین مرض توبرکلوز مؤثر نمیباشد. در راپور آمده است که همه ساله از اثر مبتلا شدن به این مرض حدود سه ملیون نفر در سراسر جهان تلف میگردد درین گزارش تازه مجله ساینس در مورد تهیه و تدارك واکسین جدید در مجادله علیه مرض توبرکلوز امکاناتي به میان آمده است.

د امریکا په یوه پوهنتون کې د جاسوسي تخصص څانګه جوړه شوه

د امریکا د متحده ایالاتو په یوه دولتي پوهنتون کې د زیات تحصیل او په دغه برخه کې د تخصص د ترلاسه کولو لپاره د جاسوسي څانګه جوړه شویده.

د لندن د دیلي تلګراف ورځپاڼې له ریوټ سره سم دغه نوي تحصیلي دوره د امریکا د نظامي اطلاعاتو په پوهنتون کې منځته راغلي ده.

ددغې څانګې په تعلیمي نصاب کې ځرګنده شویده چې ددغه دیپارتمنت د تشکیل هدف د یوې حرفې په توګه د جاسوسي په څانګه کې په لوړه سطحه د معلوماتو تر لاسه کول دي. د دیلي تلګراف د لیکنې له مخې په دغه تحصیلي څانګه کې یوازې هغه افراد شاملیدلی شي چې د امریکا د اردو یا سي.آي.اي لپاره د جاسوسي اته کلنه سابقه ولري او د امریکې فدرالي دولت هم د هغه ماموریت تائید کړېدي.

د یوه جاپاني د بدن ټول غړي نورو ته پیوند شول

د یو جاپاني د بدن ټولې اصلي برخې چې له مغزي نظره داکترانو مړ اعلام کړی و د یو شمیر اړتیا لرونکو اشخاصو په بدن پورې پیوند شوي دغه پیوند د انسان د بدن د غړیو د پیوند د قانون له مخې چې په ۱۹۹۷ کال کې تصویب شوي و د جاپان د کیوتو په روغتون کې داکترانو ځرګنده کړه د جاپاني ناروغ حالت چې یو ځوان هلك دي د بنې له پیوند وروسته د ډاډ وړ ګڼل شویدي.

د بنې د پیوند عمل لس ساعته اوږد شو. دغه جاپاني ځوان چې د انجنیرۍ د څانګې محصل دي د بنې د پیوند د عمل له تر سره کیدلو وروسته اوس تر روغتیایي څارنې لاندې دي. له بلې خوا د جاپاني سړي زړه د همدغه روغتون په کارتوګرافي برخې کې یوه بل شل کلن سړي ته پیوند شو چې دغه سړي هم د زړه د پیوند ولوله عمل وروسته د معالجو داکترانو له لارښوونو څخه په استفادې سره په ډاډمن حالت ژوند کوي.

په هیواد کې د بریښنا ...

وروسته به ژر نورو هغو سیمو ته د بریښنا د رسیدو کار پیل شي چې لا تر اوسه ورته بریښنا نه ده رسیدلې چې په سر کې یې د میوند واټ سیمې ته اشاره وکړه.

همدارنګه هغه زیاته کړه په ټول هیواد کې د بریښنا شل فابریکې شته چې له اوبو څخه بریښنا تولیدوي او اکثره یې بیرته فعالې شویدي. د کجکي فابریکه، د وردګو د چك فابریکه، د درونټې او سروبي فابریکې فعالې شوي او د نورو د فعالولو لپاره په چټکتیا سره کار روان دي.

به سلسله عودت ...

آنولایت گفت: طي سه ماه گذشته در چهار هزار و هفتصد فامیل که شامل سي هزار نفر میشود از طریق تورخم وارد شهر جلال آباد گردیده و در کمپ هاي حصار شاهي، فارم هده و باغ ممتاز جابجا گردیدند.

همچنان کمك هاي بشري امارت اسلامي نیز به فامیل هاي عودت کننده صورت گرفته است.

کمیسیون اقتصادي ...

سرپرست وزارت آب و برق، محترم ملا عبدالمجید آخند شاروال کابل، محترم ملا الله داد «طبیب» معین وزارت مخابرات، محترم مولوي محمد رستم «حنفي» معین وزارت فواید عامه، محترم ملا عشق الله معین وزارت زراعت، محترم مفتي حبیب الرحمن **معاون اداره مرکزي تشویق و انکشاف سرمایه گذاري خصوصي و نماینده گان برخي از وزارت ها و ادارات امارت اسلامي دایر گردیده بود روي موضوعات ارائه شده اقتصادي و اجتماعي بحث و مذاکره صورت گرفته و تصمیم کمیسیون غرض تصمیم نهایي به اداره محترم امور شوراي سرپرست امارت اسلامي ارائه گردید.**

در پوهنځی انجنیري ...

اسلامي افغانستان سپري مي نمایند. بعد در ختم دوره پراکتیك ایشان از کار و فعالیت خود راپور علمي تهیه نموده و در حضور استادان و محصلین و مدعوین از آن دفاع مي نمایند.

در پوهنځی انجنیري در اثر جنگ هاي سالهاي قبل تمام لابراتوار ها کتب درسي و ممد درسي وسایل تجارب عملي و تحقیقي، و دستگاه زلزله سنج که یگانه دستگاه مجهز با وسایل پیشرفته الکترونیکي و کمپیوتري بود کاملاً از بین رفته است. روي این ملحوظ پوهنځي انجنیري امید وار است تا ارګانهاي ذیصلاح در قسمت تجهیز وسایل تعلیمي و تحصیلي لابراتوار ها و وسایل اجراي تحقیقات علمي در حدود توان و بصورت تدریجي با ما همکاري نموده تا بتوان زمینه مساعد تري فراګیري هر چه بیشتر تحصیل را فراهم ساخت

کار اعمار گلخانه ...

خانه مذکور تقریباً مساحت یك جریب زمین را احاطه نموده است. در نظر است که در گلخانه انواع گلهاي بهاري کشت گردد و از بته هاي زینتي قلمه غرس گردد تا در فصل بهار در ساحات پوهنتون از آن استفاده گردد قبلاً در همین ساحه یك باب گلخانه اعمار گردیده بود که از اثر جنگ قسمي تخریب گردیده است.

مدیریت عمومي حفظ و مراقبت در نظر دارد که در داخل گلخانه جهت نگهباني گلدان ها و در ساحه بیرون آن بته هاي سبز زینتي و یك ساحه سر سبز داشته باشد چون نقشه تعمیر گلخانه از طرف وزارت فواید عامه ترتیب گردیده و مصارف آن هم از طریق وزارت متذکره پرداخته میشود.

د هیواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو!

شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې، پالنې، او روزنې ټینګ او ډاډمن فرهنګي سنګر دي.

راځئ چې په خپلو قلمي لوریو، رغنده وړاندیزونو او پر ځای ګوت نیونو د اوونیزې منځپانګه لا بډایه او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندې خپل مسؤلیت تر سره کړو.

اداره

د کابل پوهنتون په ...

خپلو وینااوو په ترځ کې په بشري ټولنو کې د اسلامي تعالیمو د زده کړې د دعوت او ارشاد او د اسلام د مبین دین د خپرولو د مرکزونو په توګه د جوماتونو رول جوت کړ.

وروسته د لوړو زده کړو وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حمد الله نعماني خپله هر اړخیزه وینا واوروله وروسته د سرپرستي شورا مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د کابل پوهنتون په انګړ کې د جامع جومات د بنسټ ډبره کیښودله.

ددغه جومات نقشه د هیواد د تکړه مهندسانو لخوا برابره شویده او د اته زره اته سوه مربع متري ساحه احتوا کوي، چې په دوو پوړونو کې په باخه او اساسي ډول جوړیږي او په یوه وخت کې دوه زره پنځه سوه تنه لمونځ کوونکي پکې ځائیږي او دغه راز د کتابتون، د ملا امام او مؤذن د استوګنې د خونو عصري تشنابونو او د اوداسه د ځای په ګډون ضروري ملحقات لري چې د لوړو زده کړو وزارت له پرمختیایي بودجې نه د لسو ملیاردو افغانیو په لګښت د سید زاده د ساختماني دستګاه لخوا به په یو نیم کال کې بشپړ شي.

سیمینار علمي و ...

موسسه UNOPS در تالار هوتل انترکانتیننتال تدویر یافت علاوه از اشتراك رؤساي انکشاف دهات مرکز و لایات کشور مسؤولین و کارمندان مرکز ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات برخي از وزراي سرپرست کابینه امارت اسلامي افغانستان و نماینده گان موسسات خیریه و انجو هاي داخلي و خارجي اشتراك ورزیده بودند.

درین سیمینار پس از تلاوت آیاتي چند از قرآن عظیم الشان ابتدا پیام محترم معاون شوراي سرپرست توسط محترم مولوي عبدالسلام «مسلم» رئیس دفتر مطبوعاتي شوراي سرپرست قرائت گردید که در بخشي از پیام چنین آمده است: احیا و انکشاف دو کلمه ایست که مردم و کشور ما بدان نیاز مبرم دارند زیرا بعد ازکودتاي ثور ۱۳۵۷ و تجاوز نظامي روسها و همچنان جنگهاي بي مفهوم رژیم گذشته قسمت اعظم سرمایه هاي مادي و معنوي کشور ما از بین رفته و اکثر تاسیسات عام المنفعه کشور به مخروبه مبدل گشته است. بعداً محترم مولوي یار محمد «رحیمي» رئیس عمومي احیا و انکشاف دهات، محترم انجنیر سید آقا نماینده دفتر خدماتي ملل متحد، محترم مولوي عبدالسلام «حقاني» معاون ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات، محترم مولوي عبدالسلام «حنیفي» معین وزارت معارف و برخي از مسؤولین در رابطه به موضوع صحبت نموده تلاشهاي همه جانبه و صادقانه مسؤولین ذیربط را در امر احیا، و انکشاف دهات کشور که به سبب آن ضروریات عمده و اولیه مردم زجر کشیده ما مرفوع میگردد خواستار گردیده موفقیتهاي هر چه بیشتر شانرا از خداوند«ج» آرزو نمودند.

ریاست عمومي احیا، و انکشاف دهات با داشتن سابقه چهل ساله خدمت توانسته است در بیش از سي و پنج هزار و پنجصد قریه خورد و بزرگ کشور که به اثر جنگهاي زمامداري کمونستان، تجاوز روسها و رژیم قبلي تاسیسات عام المنفعه آن از قبیل سرك ها، پل ها، پلچك ها، تاسیسات آبرساني، کانالها، بند، کاریز ها، مساجد، مدارس شبکه هاي آبرساني، آب آشامیدني از بین رفته تا حدودي کار و فعالیت نموده و بخشي از این خرابه ها را دو باره احیا، و باز سازي نماید.

د مخالفینو شیرو ...

ځای شویو قوماندانانو ته یوتن د بامیانو ولایت مرستیال او کفیل محترم مولوي حبیب الله شمشاد او ددغه ولایت چارو یو شمیر مسؤولینو د یوې غونډې په ترځ کې هر کلي ووایه. او د هغوي پیوستون یې په ټول هیواد کې د جګړې د پایته رسیدو د سولې په تامین او د اسلامي امارت د هدفونو د تحقق په لاره کې مثبت او ګټور ګام وباله.

وروسته دوونو دغو قوماندانانو د نورو په نمایندګۍ خبرې وکړې او د اسلامي امارت له سوله غوښتونکي او له تبعیض پرته کړنو نه یې د خوښۍ د ځرګندولو په ترځ کې ژمنه وکړه چې په راتلونکي کې به د اسلامي امارت د هدفونو او پروګرامونو د تحقق په لاره کې له هیڅ ډول سر ښندنې او ځان تیریدنې نه ډډه ونه کړي.

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

امارت اسلامي افغانستان از کارکنان مؤسسات خیریه قدرداني و حفاظت مینماید

هموطنان عزیز ما و جهانیان اطلاع دارند که اخیراً رسانه هاي خبري برخي از کشور هاي جهان تبلیغات سو را به راه انداخته و اعلام داشتند که گویا مؤسسه صلیب سرخ بین المللي بنا بر اذیت چند تن از کارکنان شان در ولایت بامیان، کارمندان خارجي خویش را از افغانستان خارج مینمایند که البته این تبلیغات زهرآگین تا حدي سرو صدا هاي براه انداخته و بدست دشمنان اسلام و امارت اسلامي افغانستان حربه جدید تبلیغاتي حواله نمودن؛ اما واقعیت چنین نیست که دشمنان تبلیغ نمودند زیرا در ساحه تحت حاکمیت ا.ا.ا امنیت حکمفرما بوده امارت اسلامي همه تسهیلات کاري را براي کارمندان موسسات خیریه آماده نموده و امنیت شانرا کاملاً بدوش مي گیرد از آنها حفاظت مینماید و از خدمات انساني و خیر خواهانه شان ستایش بعمل میآورد. رئیس امداد و عملیات کمیته بین المللي صلیب سرخ در کابل آقاي مارکوس دولدر خود اعتراف مینماید که تبلیغات رسانه هاي خبري خارجي دور از واقعیت بوده، ما هیچگاه تصمیم اخراج کارمندان خویش از افغانستان را نه گرفته ایم، ما با مردم مستضعف افغانستان به مساعدت هاي بشري خویش ادامه میدهیم. موصوف افزودند که مشکلات امنیتي گاهگاهي در هر کجا و هر قسمتي از جهان بروز نموده میتواند بناءً مسئله واقع شده هفته قبلي آنقدر قابل تشویش نبوده و مانع تداوم پروسه کاري ما شده نمیتواند.

اظهارات آقاي مارکوس براي همه آنهائیکه بر علیه ا.ا.ا از باعث فوق تبلیغات نمودند به مثابه یك جواب دندان شکن بوده و شاید آنها را متقاعد ساخته باشد که تبلیغات شان غلط و بي نتیجه بود، مسئله جدیت امنیت و حفاظت کارمندان موسسات خیریه خارجي در افغانستان را از متن این حکم عالیقدر امیر المؤمنین بخوبي میتوان حدس زد و دانست که امارت اسلامي افغانستان تا کدام حد در این مورد توجه داشته و احساس مسؤولیت مینماید، عالیقدر امیر المؤمنین طي حکم خویش چنین میفرماید:

اینکه گاهگاهي به کارمندان موسسات خارجي تکلیف داده میشود چنین معلوم میگردد که این کار دسیسه دشمنان و مخالفین بوده که در لباس طالب به چنین اعمال دست مي زنند تا به جهانیان نشان بدهند که موسسات خارجي در افغانستان به امن نمي باشند هرگاه چنین اشخاص در لباس طالب و یا غیر طالب دستگیر شوند به پنج سال حبس محکوم میگردند و در ضمن مسوولین امارت اسلامي را به جلوگیري فعالیت هاي چنین اشخاص مامور ساخته است با توجه به حکم فوق عالیقدر امیر المؤمنین کارمندان موسسات خارجي باید با اطمینان کامل به فعالیت هاي خویش ادامه داده و هیچ تشویش بدل راه ندهند زیرا هر کس که باعث آزار شان گردد از جانب مسؤولین دستگیر و به سزاي اعمال شان خواهند رسید و لو اگر طالب هم باشند !!

جهانیان باید قبول کنند که در جهان هیچکدام کشوري وجود ندارد که در آنجا جنایت و سرکشي صورت نگیرد حتي بزرگترین کشور پیشرفته و عصري جهان امروز که ادعاي پیش آهنگي جهان را نیز دارد هم به تأمین امنیت کامل و صد فیصد در قلمرو خود قادر نبوده حتي در ظرف هر دو دقیقه در آن کشور یك جنایت رخ میدهد بناءً واقعه آزار کارمندان صلیب سرخ بین المللي در بامیان دلیل آن شده نمیتواند که در امارت اسلامي افغانستان امنیت موجود نیست یا مسؤولین به امنیت کارمندان خارجي توجه نمي نمایند که آقاي مارکوس دولدر نیز آنرا **پذیرفته است:**

لازم به یاد آوریست که در پرتو دساتیر مقدس اسلام جان، مال و عزت اتباع خارجي و خود افغانان در ا.ا.ا در امن بوده و هیچکدام خطري متوجه هیچ فردي نخواهد بود و ان شاء الله مسؤولین ا.ا.ا به پیروي از دساتیر دین مقدس اسلام و حکم عالیقدر امیر المؤمنین در زمینه توجه جدي خواهند نمود کارمندان موسسات خارجي بدون احساس کدام تشویش و خطر میتوانند به خدمات بشري شان ادامه دهند، ملت مجاهد افغان براي همیش قدردان خدمات قابل قدر انساني و خیر خواهانه شان **خواهد بود.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press